

بسم الله الرحمن الرحيم

پښتو

# قرآن کريم څه شی دی؟

قرآن کريم د هغه الله کلام دی چې د عالمونو رب او پيدا کوونکی دی، د پيغمبرانو او رسولانو په وروستي يو؛ محمد ﷺ يې نازل کړی دی، ترڅو انسانانو ته د هغوی د پېدايښت موخه بيان کړي، او هغه څه ته يې لارښوونه وکړي چې د دنيا او آخرت نيکمرغي او له مرګ نه وروسته د تلپاتې بدبختۍ څخه يې پکې خلاصون دی، دا کتاب د الهي کتابونو په لړ کې وروستی نازل شوی کتاب دی چې د مخکنيو کتابونو تصديقوونکی او د هغوی د قوانينو (شريعتونو) منسوخوونکی دی.

قرآن کريم يوه تلپاتې الهي معجزه او د رسول الله ﷺ په نبوت ستر ثبوت او دليل دی، الله جل جلاله پرې انسانان او پېريان ننګولي تر څو يې په څېر بل کتاب راوړي او يا يې د سورتونو په څېر يو سورت راوړي، خو دوی لدې ټولو بې وسې پاتې شول.

۱۴۰۰ کاله وړاندې؛ د قرآن کريم له نزول راهيسې تر دې دمه نوموړي کتاب ته د تحريف او تغيير لاس ندی رسيدلی او د الهي ژمنې پر بنسټ به همداسې په عربي ژبه تر پايه خوندي پاتې شي لکه څرنګه چې نازل شوی دی، ځکه چې الله تعالی يې د تل لپاره د ساتلو ژمنه کړې ده.

قران کريم د اسلامي دين اصلي سرچينه او هغه اساسي قانون دی چې د بشر ژوند تنظيموي او په هر وخت او ځای کې يې اداره کوي، يوازې د يو الله عبادت ته بلنه ورکوي او هغه څه څرګندوي چې انسان ورته د خپل رب او دين د پيژندلو لپاره اړتيا لري. د کايناتو د پيدايښت پېل، د انسان د پيدايښت پړاوونه او د تېرو او راتلونکو غيبي چارو په اړه خبر ورکوي، د مخکينيو پيغمبرانو عليهم السلام کيسې بيانوي، چې څرنګه الله تعالی لدوی سره مرسته وکړه او څنګه يې د هغوی دښمنان نابود کړل، په دې - کتاب - کې عبادتونو، راکړې ورکړې او غوره اخلاقو ته د بلنې بنسټونه ځای پر ځای شوي دي، د بدو اخلاقو پر وړاندې اخطار او په آخرت کې د انسانانو د برخليک په اړه خبر ورکوي چې يا خو جنت دی د مؤمنانو لپاره او يا خو دوزخ دی د ظالمانو او کافرانو لپاره.

د دې ستر کتاب ځانګړنه دا ده چې الله تعالی په عربي ژبه ټول بشريت ته نازل کړی او ټولو ته يې د رسولو امر کړی دی؛

## ګرانه لوستونکيه!

د خوښۍ ځای دی چې تاسو ته ستاسو په ژبه ددې کتاب د معناوو ژباړه وړاندې کوو، ترڅو تاسو د دې کتاب په معنا پوه شئ. او دا چې خېرولو يې تحقق موندلی، نو کاري ټيم پدې کتاب د خلکو پوهاوي او نورو ژبو ته د ژباړلو لپاره خپلې هڅې ترسره کړي دي، سره لدې بيا هم په پوره ډاډ سره وايم چې ژباړه که هر څومره سمه او کره وي، بيا هم د قرآن کريم د لويو معناوو په رانغاړلو کولو کې پاتې راځي، ځکه چې قرآن کريم له معجزو ډک کتاب دی او د بشري توان له بشپړ درک څخه لوړ دی، په قرآن کريم د پوهېدلو او له حقيقتونو څخه يې د ځان خبرولو لپاره د عربي ژبې د زده کړې سپارښتنه کوو ځکه چې قرآن کريم په همدې ژبه نازل شوی دی.

وسلام على المرسلين، والحمد لله رب العالمين.

دلته د QR کوډ له لارې تاسو کولی شئ په خپله ژبه قرآن کريم د معناګانو ژباړه ومومئ.

مونږ خوښ يو چې د قرآن کريم د موسوعې په ويب پاڼه؛

(WWW.QURANENC.COM)

کې د هر آيت مخې ته د يادښتونو کړکۍ (وينډوز) له لارې د ژباړې د پراختيا لپاره ستاسو وړانديزونه او نظرونه ترلاسه کړو، او که تاسو غواړئ له مونږ سره اړيکه ونيسئ مونږ ته د بريښناليک له لارې؛ ليک استولی شئ:

INFO@QURANENC.COM

موسوعة القرآن الكريم

QuranEnc.com

www.islamHouse.com